

د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

# راستنېدنه عودت

اونیز / هفته نامه

۹۰ یمه ګڼه، ۱۴۰۴ سلواغه: لومړی مخ/ شماره ۹۰ دلوه ۱۴۰۴: صفحه اول


## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير په کابل کې د جاپان له نوي ټاکل شوي سفير ښاغلي کينيچي ماساموتو سره وکتل

په دې ناسته کې، چې له افغانستان سره د جاپان د مرستو او همکاريو په اړه خبرې وشوې، ښاغلي سفير وويل، چې توکيو د اسلامي امارت د واکمنۍ له پيله تر تېر زيږديز کال پورې له افغانستان سره په بشري، د کډوالو، بديل کښت، روغتيا، اوبو رسولو، د ښځو د لاس نيوي او ځينو نورو برخو کې ۵۵۰ ميليونه ډالر مرسته د ملګرو ملتونو د ادارو لخوا کړې ده.

د جاپان سفير ښاغلي کينيچي ماساموتو له نشه يي توکو سره د مبارزې، اداري فساد او بشپړ امنيت په برخو کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې د پام وړ وبللې او يادونه يې وکړه، چې توکيو له افغانستان سره ګډ کار ته دوام ورکوي او جاپان د افغانانو ارزښتونو ته درناوی لري او د افغانستان په کورنيو چارو کې لاس وهنه نه کوي.

نومورې په کابل کې د جاپان ډيپلوماتيک مامورېت اړتيا وبلله او پر وينا يې، چې د جاپان حکومت له افغانانو سره د خپلو مرستو پر دوام ۱۹،۵ ميليونه ډالر کڅوره تصويب کړې، چې د کډوالو په ګډون په ځينو نورو بشري برخو کې به ولګيږي.

محترم مولوي عبدالکبير د جاپان سفير کينيچي ماساموتو ته ښه راغلاست وويل او نوموړي ته يې په نوې دنده کې د بريا هيله څرګنده کړه. محترم وزير د جاپان له بشري مرستو په مننې وويل، چې افغانستان د اقليمي بدلون او بهرنيو اشغالونو له امله له ستونزو سره مخ دی او اړتيا ده، چې نړېوال د اړمنو افغانانو لاس نيوی وکړي او په پراختيايي چارو کې برخه واخلي.

محترم وزير زياته کړه، چې د اسلامي امارت د واکمنۍ په موده کې ميليونونه افغانان هېواد ته راستانه شوي، چې دوامداره مرستو ته اړتيا لري.

محترم وزير د جاپان په ګډون له نړېوالو څخه وغوښتل، چې راستنو شويو ته د کاري فرصتونو د چمتو کېدو په موخه تولګټې پروژې پيل کړي.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير د کابل له امنيه قومندان ملا ولي جان حمزه سره وکتل

په دې ناسته کې چې د کابل د امنيت د ټينګښت په اړه خبرې وشوې، ښاغلي ملا ولي جان حمزه وويل چې د اسلامي امارت د مشرانو ښه رهبري او د مجاهدينو قرباني د افغانستان د ثبات او امنيت سبب شوې ده.

ښاغلي حمزه زياته کړه، چې سږ کال د کابل ولايت د نفوس په پرتله ان جنايي پېښې هم خورا کمې او له پخوا سره د پرتلې وړ نه دي. نوموړي څرګنده کړه، چې په کابل کې د اسلامي امارت پوځي اداري د ولس په همکارۍ خپلې چارې مخکې وړي او په هره سيمه کې د پوليسو تر څنګ ګڼ شمېر کسان د امنيت په ټينګښت کې ونډه لري.

محترم مولوي عبدالکبير د اسلامي امارت د امنيت په ټينګښت کې د مجاهدينو هڅې وستايلې او زياته يې کړه، چې پوځي ادارو پر خپلو چارو سربېره د راستنېدونکو هېوادوالو لپاره د پام وړ خدمات وړاندې کړي دي.

محترم وزير زياته کړه، چې له نېکمرغه اوس د افغانستان هره سيمه کافي شمېر مجاهدين لري او په تېرو شلو کلونو کې ثابته شوه، چې د اسلامي امارت صفونه تر بل هره وخته قوي او د دښمن ماته يې يقيني کړې وه.

د محترم مولوي عبدالکبير په وينا، څرګنده چې په اسلامي امارت کې قومي او سمتي مسايل ځای نه لري نو اسلامي نظام هېوادوالو ته د غوره خدمت د وړاندې کولو ښه لاره ده.





## وزیر امور مهاجرین در نشست های جداگانه با نمایندگان عودت کنندگان ولسوالی های نهرین و دهنه غوری ولایت بغلان دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان در نشست های جداگانه با نمایندگان عودت کنندگان ولسوالی های نهرین و دهنه غوری ولایت بغلان، در دفتر کارش دیدار کرد.

نماینده ها از ولسوالی دهنه غوری به رهبری مخدوم عبدالسلام سعادت معاون والی ولایت پکتیکا از بازگشت به کشورشان و همکاری امارت اسلامی با آنان ابراز خوشحالی کرده پیشنهادات خود را با محترم وزیر امور مهاجرین در میان گذاشتند.

نمایندگان بازگشت‌کنندگان ولسوالی نهرین نیز گفتند: امسال با همکاری دولت و سازمان‌های امدادرسان، سرپناه‌هایی برای آنها فراهم شده است.

آنان خواهان همکاری در بازسازی جاده، مسجد و کمک غذایی شدند.

محترم مولوی عبدالکبیر ضمن خوشامدگویی به نمایندگان هموطنان بازگشته، افزود: در مورد پیشنهادات با ادارات مربوطه هماهنگی لازم را انجام خواهد داد و کمک‌های اضطراری فوق العاده را برای آنان در محلات شان ارسال خواهد کرد.

محترم وزیر امور مهاجرین با اشاره به مهاجرین افغان توضیح داد: امارت اسلامی از مهاجرین افغان استقبال می‌کند و تلاش می‌کند تا آنها را به بخشی فعال از جامعه تبدیل کند.

## وزیر امور مهاجرین با مسوول بخش آسیایی فدراسیون بین‌المللی صلیب سرخ و هلال احمر، دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر، وزیر امور مهاجرین و عودت‌کنندگان، با آقای الکساندر ماتیو، مسوول بخش آسیایی فدراسیون بین‌المللی صلیب سرخ و هلال احمر، دیدار و گفتگو کرد.

در این نشست که با محوریت ارائه کمک به بازگشت کنندگان افغان و رسیدگی به نیازهای مهاجرین برگزار شد، آقای ماتیو گفت: کمیته بین المللی صلیب سرخ در حال ارائه کمک های بهداشتی، غذایی و نقدی به بازگشت کنندگان افغان است.

وی به کاهش کمک های بشردوستانه اشاره کرد، اما کمک های گسترده امارت اسلامی به مهاجرین را مؤثر توصیف کرد.

در ادامه، آقای ماتیو از طرح امارت اسلامی برای اسکان دائمی مهاجرین افغان در جامعه یاد کرده گفت: وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان این پیشنهادات را بررسی خواهد کرد.

محترم مولوی عبدالکبیر از مسوول فدراسیون بین‌المللی صلیب سرخ و هلال احمر بخش قاره آسیا استقبال کرده افزود: امارت اسلامی برای امور مهاجرین آمادگی‌های گسترده‌ای گرفته است.

محترم وزیر مهاجرین خاطرنشان کرد که امارت اسلامی در تلاش است تا مشکلات مهاجرین را به طور دائمی حل کند و با فراهم کردن سرپناه و فرصت های شغلی برای بازگشت‌کنندگان، مهاجرین افغان به بخش فعال جامعه تبدیل شوند.

محترم مولوی عبدالکبیر توضیح داد: امارت اسلامی یک سلسله کمک ها را به عودت‌کنندگان آغاز کرده است اگر نهادهای بین‌المللی تلاش‌های خود را در حمایت از دولت افغانستان تسریع کنند، مشکلات عودت‌کنندگان افغان به زودی حل خواهد شد.

محترم وزیر امور مهاجرین همچنین به اهمیت راه‌اندازی پروژه‌های رفاهی توسط سازمان‌های بین‌المللی در فراهم کردن فرصت‌های شغلی برای بازگشت‌کنندگان نیز اشاره کرد.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د کندز د کلباد ولسوالۍ له څو تنو علماوو او مخورو سره وکتل

د کندز له کلباد څخه راغلیو قومي مخورو او علماوو د کډوالو چارو وزارت له همکارۍ او لیدنو څخه په خوښۍ وویل، چې د اسلامي امارت له مشرانو سره د ولس ناستې د حکومت او خلکو تر منځ د ښو اړیکو سبب شوې دي. راغلیو علماوو او مخورو د کندز په کلباد ولسوالۍ کې د ځینو موضوع ګانو په اړه د وړاندیزونو شریکولو پر مهال له اسلامي امارت څخه په یاده ولسوالۍ کې د ځینو پراختیایي چارو د پیل غوښتنه وکړه.

محترم مولوي عبدالکبیر راغلیو قومي مخورو او علماوو ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه، چې اسلامي امارت خپلې چارې د شریعت په رڼا کې پر مخ وړي، له توپیر پرته د هر افغان د ستونزو د حل لپاره هڅې کوي او اسلامي نظام د ټولو ګډ کور دی.

محترم وزیر د کلباد ولسوالۍ د ولس د وړاندیزونو پر حل ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې د اسلامي امارت له اړوندو ادارو سره به همغږي وکړي ترڅو د ولس ستونزې حل او مناسب خدمات وړاندې کړي.



## په مهاجرینو چارو وزارت کې د راستنو شویو مهاجرینو د فردي مشخصاتو د ثبت سیستم ( بایومټریک(فعال شو

په مهاجرینو چارو وزارت کې د دغه وزارت د مسلکي معین الحاج مولوي عبدالرحمن راشد له لوري له ګاونډیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو مهاجرینو د فردي مشخصاتو د ثبت سیستم( بایومټریک) فعال شو.

ښاغلي راشد دغه کار مهم وبلل او ویې ویل: د دغه سیستم له فعالېدو سره سم به د مهاجرینو د نوم اصلاح او نورو فردي مشخصاتو کې شته ستونزې په چټکۍ سره حل شي.

نوموړي وویل: هڅه کوو، چې دغه سیستم په ولایتونو کې هم فعاله کړو، تر څو راستنېدونکي په اسانۍ سره خپلې ستونزې حل کړي.

د یاد وزارت د تحقیق او معلوماتو رییس سید کامران جان مخلص وویل: دغه وزارت د ځنډ مخنیوي او د کاري پروسې ساده کولو لپاره پرېکړه کړې، تر څو هغه راستانه شوي چې فردي مشخصات یې اصلاح ته اړتیا ولري، همدلته ثبت او بایومیټریک کړي.

د یادونې وړ ده، چې یاد سیستم تر دې مخکې د کورنیو چارو وزارت کې فعال و، چې د مهاجرینو وزارت په هڅو، د کاري پروسو د اسانولو په موخه دغه ورازت ته راولېږدول شو.



## یک تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

به ارزش ۴۴ هزار و ۷۳۸ دالر امریکایی، یک تفاهم نامه همکاری میان موسسه افغان ها برای حمایت از معارف و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه عقد شده، مبلغ فوق در بخش توزیع بسته های غذایی و غیر غذایی برای ۲۱٦ خانواده برگشت کننده و جامعه میزبان در ولایت بلخ به مصرف خواهد رسید.



## بیش از ۲ هزار خانواده در ولایت بغلان کمک غذایی و نقدی دریافت مینما یند

به اساس فرمان عالیقدر امیر المومنین حفظه الله، توزیع مواد غذایی و کمک نقدی برای ۲۲۰۰ خانواده برگشت کننده در ولایت بغلان با حضور مولوی عطاء الله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری و مقامات محلی آن ولایت به تاریخ ۳۰ جدی، آغازشد.
کمک مذکور شامل ۱۱ هزار بوجی گندم و مبلغ ۱۱ میلیون افغانی است که برای هر خانواده ۵ بوجی گندم و مبلغ ۵ هزار افغانی با همکاری وزارت زراعت، آبیاری و مالداری ظرف چند روز آینده توزیع میشود.
قابل ذکر است که لیست عودت کنندگان مطابق دیتابیس آنلاین وزارت امور مهاجرین و به تناسب سطح عودت هر ولسوالی ترتیب گردیده تحت نظر هیات موظف ریاست های مهاجرین و زراعت بغلان پروسه توزیع تطبیق میگردد.

## د پاکستان له بندخونو تر ۱۰۰ زیات افغان کډوال ازاد او هېواد ته راستانه شول

روانه اونۍ د پاکستان له بندخونو ۱۲۳ افغان کډوال ازاد او هېواد ته راستانه شول.
د کندهار د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د سپین بولدک د لېږد امریت د راپور له مخې، یاد کسان له یوې ورځې تر ۲ میاشتو پورې بندیان وو، چې په دغه امریت کې تر ثبت او مرستو له تر لاسه کولو وروسته خپلو سیمو ته ولېږدول شول.

## هزاران خانواده در ۷ ولایت کمک شد

برای ٥٦٦٧ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، آسیب پذیر و جامعه میزبان در ولایات کابل، غزنی، ننگرهار بادغیس، میدان وردک، فاریاب و سرپل، کمک های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی در هفته روان توزیع شد.
طبق گزارشات از ولایات، برای ٥٢٧ خانواده در کابل مبلغ ۵ میلیون ۲۸۸ هزار و ۲۴۰ افغانی، برای ۱۹٦ خانواده در غزنی مبلغ دو میلیون ٥٨٧ هزار افغانی، برای ٦٩۴ خانواده در ننگرهار مبلغ ٦ میلیون ٦۰۹ هزار و ۳۷۰ افغانی، برای ۱۰۰۰ خانواده در بادغیس ۱۳ قلم مواد خوراکی و غیر خوراکی، برای ۲۵۰ خانواده در میدان وردک مبلغ ۸ هزار و ٥٥۰ دالر امریکایی، ۹۱۸ هزار و ۳۷٥ افغانی و فلتر های تصفیه آب و برای ۳۰۰۰ خانواده در ولایات سرپل و فاریاب ۵ قلم مواد خوراکی کمک نهاد های همکار بود که پس از شناسایی برای آنان توزیع شد.
همچنان، برای ۳۰ تن از خانم ها در بادغیس ۲۴ قلم وسایل خیاطی، متذکره آن را پس از شناسایی بدست نیز کمک نهاد همکار بود که افراد آوردند.

